اخترمحمد یوسفی
۲۰۱۹/۰۹/۰۹

امریکا د طالبانو سره د سولی مذاکرات لغوه کړل؟

د امریکا او د پاکستان لخوا د استول شوی طالبانو ترمنځ د سولی مذاکرات ولی او څنګه ناکامه شول؟

د امریکا او د طالبانو ترمنځ د سولی د مذاکرات ناکامی د چاه پر غاړه ده؟

د امریکا او د پاکستان لخوا استول شوی طالبانو ترمنځ د سولی د مذاکراتو په نهه دورو کښی چی یو کال د مخه د امریکا د بهرنی سیاست د افغانستان په چارو کښی څلویښت کلن سلاکار او خاص استازی زلمی خلیلزاد لخوا د طالبانو د قطر د دفتر د استازو ترمنځ د تورو پردو تر شاه ترشاه پیل شوی وی ناکامه شول.

د امریکا د جمهور رییس بناغلی دونالد ټرمپ لخوا پرون مازدیګر د خبرو د لړی د طالبانو سره لغوه اعلان کړل.

ښاغلي ټرمپ د شنبې په مازديګر (سپتمبر اوومه) په ځينو پرله پسې ټويټونو کې ويلي په پام کې وه چې سبا (يکشنبه) په کمپ ډيويډکې له طالب مشرانو سره وګوري خو دا کتنه لغوه شوې ده.

د مذاکرتو په هر واری کښی به د اوږدو خبرو او اترو وروسته په پای کښی سره لدی چی په خبرو کښی نه پخلاکيدونکی اختلافات په ښکاره ډول وجود درلودل مګر هر واری د دوحی ښار د قطر د هيواد د پايتخت څخه به اعلانونه خپاره کيدل چی د سولی په خبرو پر خورا ښه مختګ شويدی.

د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خليلزاد په وارو وارو ويلی دی چې امريکايان او طالبان سره د دوحې خبرو په ترڅ کې په اصولو کې خپلمنځې هوکړې ته رسېدلي دي.

پاکستانی رهبرانو په وارو وارو هم د امريکا د سولی د خبرو خاص استازی زلمی خليلزاد ته ډاډ ورکاوه چه مونږ طالبان تاسو ته د سولی لپاره د افغانستان د جګړی د پای ته رسيدلو لپاره د ميز تر شاه کيښنولی دی. د پاکستان د بهرنی چارو وزير شاه محمود قريشی د پاکستان د بهرنيو چارو وزير د طالبانو په ګډون د ټولو افغانانو پر خپلمنځې خبرو ټينګار کړی او وايي اسلام اباد به يې هم په بري کې ورسره مرسته کوي. شاه محمود قريشي چې د بي بي سي اردو څانګې سره غږېده، طالبان يو حقيقت وباله چې د ده په ټکو نولس کلنې جګړې او خورا پياوړې ټکنالوژۍ او پراخ مالي لګښت هم له منځه يو نه وړل. نوموړی د مرکې په پيل کې د کشمير پر روانو حالاتو او هغو ته د پاکستان پر غبرګون پوښتل شوی.

https://www.bbc.com/pashto/pakhtunkhwa-٤٩٥٤٤٣٧٥

د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خليلزاد او طالبان سره د دوحې د خبرو د ناکامی اصلی علتونه او مسؤلين يی معلوم دی.

لومړی: د سولی د مذاکراتو لومړنی اساسی علتونه دادی چی د افغانستان مظلوم او بيدفاع ولسونه د څلويښت کلنی خونړی جګړی ربښتنی قربانيان دی چی دا همدا افغان ولسونه وه خپل ټول ژوند يی د پردیو په جګړو کښی له لاسه ورکړيدی او د امريکا او طالبانو سره د سولی په مذاکراتو کښی خپل ربښتنی استازی نه درلودل.

د افغانستان اوسنی فاسد دولت واکداران او د څلورو لسيزو جګړه مار سياستوال د پاکستان ترحمايی لاندی وحشی طالبان چی د افغانستان د خلکو په وژلو يی د بهرنيانو سره د جګړی په نامه لاسونه سره دی ، بيګناه ملکی خلکو وينی تويولو باندی بوخت دی هيڅکله د جګړی د ربښتنی قربانيانو او د افغان مظلوم ملت استازيتوب نشی کولای.

دویم: د پاکستان لخوا استول شوی طالبان سره د سولی خبری د افغان د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد لخوا مذاکرات لړی د تورو پردو تر شاه کاملاً پټ ساتل شوی وی چې وروستنی موافقت لیک کاپی یواځی د امریکایی جمهور رییس او یو څو محدودو رهبران ته ورکړل شوی وی۰ د افغان حکومت ځنی مشران ته یواځی د کاغذ مخ د لوستلو دپاره ښودل شوی وی مګر د ټرون کاپی هم و لوستونکو ته نه وه ورکړه شوی. د امریکا، افغانستان اود نړی ټول خلک د وروستی موافقت لیک د متن څخه بی خبره دی.

دریم : د افغان ملکی مظلومو خلکو وینه توئیدل د هیوادوالو او نړی د خلکوغسه یی دومره راورپاروول چې د سپنی مانې او د کابل د ارګ واکداران یی هم وبیروول.

د امریکا هغه څلور شرطونه چې د سولی په خبرو کښی بحث پر شوی ؤ دادی.

الف: د افغانستان څخه د امریکا د نظامی قواو وتل.

ب: د طالبانو د افغانستان د خاوری څخه د امریکا او د هغه د دوستان پر ضد نه کارول۰

ج: بین الافغانی مذاکرات د افغان حکومت او طالبان تر منځ.

د: د جګړی اوربند ۰

طالبان او پاکستان لا تر اوسه پوری د شلو کالو د مخه د خپل امارت اسلامی د واک خوبونه وینی۰ طالبان او پاکستان غواړی چې د بیګناه افغانانو په وژلو سره واک ته ځان ورسوی او بیه نوم هم سوله پریږدی۰ د سولی په پورتنی مذاکرتو او خبری کښی د امریکایان او طالبان تر منځ د دوحې د خبرو په ترڅ کې د لمړیتوب حق د واقعی سولی ته نه ده ورکړل شوی.

اوربند چې د سولی د خبرو اساسی لمړنی شرط دی د طالبانو او پاکستان لخوا مراعت نشول۰

څلورم: بهرنیان د خپلو اهدافو د رسیدلو د پاره په خپلو رقابتی جګړو کښی کولای شی افغانستان وران کړی مګر نشی کولای چې په افغانستان کښی ربښتنی او دوامداره سوله راولی۰

د افغانستان سوله به د افغان ولس ربښتنی استازو په استازیتوب د بیطرفو اوعادل قاضیانو په حضور باید را وستل شی نه پټ د تورو پردو ترشاه۰ چې د جګړی دواړی خوای باور پر ولری۰ پای

**** **** ****